شریعت
ورځپانه
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان

شپږم کال، ٥مه ګڼه پرله پسې(٤٢٩)چهارشنبه د١٤٢٢هـ ق دربیع الثانی (٢٠)
د١٣٨٠ هـ ش کال د سرطان (٢٠) د٢٠٠١ میلادی کال دجولای (١١)

کوفی عنان ته د بهرنیو چارو وزیر په لیک کې :

د بندیزونو او وچکالي په اثر ډیر خلک مهاجرت ته اړ شوي دي

کابل :
د افغاني مهاجرینو دحالت او دهغوی د ستونزو او مشکلاتو په اړوند د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو د وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل لیک د ملګرو ملتو د سازمان د سرمنشی ښاغلی کوفی انان په نامه پرون په دې شرحه مخابره شویدی .
خوښ یم چې خپلی د یری ښی هیلي ستاسو حضور ته وړاندي کوم تاسو ته په ښه توګه معلومه ده چې د افغانستان خلک د پخوانی شوروی اتحاد د تیری ډیبي مفهومه تنظیمی جګړو او داقتصادی بنسټ د له منځه تللو په نتیجه کې له خپل هیواد څخه وتلی او په ګاونډیو هیوادونو او په نورو هیوادونو کې د مهاجرینو په توګه ژوند کوی . د اسلامی امارت په ټینګښت او په هیواد کې د امنیت په تأمین سره یو شمیر افغانان بیرته خپل هیواد ته راستانه شول خو د ملګرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د اقتصادی بندیزونو له لګیدو او د وروستیو وچکالیو وروسته نه یوازې مهاجرین له راستنیدو څخه پاتې شول بلکې یو شمیر نور هم د اقتصادی ستونزو او مشکلاتو له امله له هیواد څخه مهاجر شول چې د هغو د مهاجرت لړۍ دوام لری .
دغه مهاجرین په ګاونډیو
٤ مخ

الهی فرمان
هغه ورځ (دې وریاد کړی) چې خپلې ژبې، لاسونه او پښې به یې په هغو عملونو شاهدی وایی چې کول به یې .
(٢٤- النور)

دفتر مهاجرین ملل متحد

دربرابرحمله برمهاجرین افغان دراصفهان بی تفاوت ماند

دراین حمله یکصد نفر سوار بر موتر سایکل سهم گرفتند
دراین حمله ده تن افغان شدیداً زخمی و سه تن به شهادت رسیدند

واشنگتن :
درشهر اصفهان ایران یکصدجوان ایرانی که برموتر سایکل سواربودند بالای مهاجرین افغان مقیم آنجا حمله کردند ودهاتن را مجروح نمودند خبرحاکیست دراین حمله سه تن افغان به شهادت رسیده که اجساد آنها فعلاً در یك شفاخانه دولتی قراردارد . حمله کننده گان شعار میدادند که اقتصاد ما ضعیف است و ما بی
ص٤

وزیر اطلاعات وکلتور درملاقات با سران اهل تشیع

وحدت وهمبستگی اقوام وملیت های ساکن درکشور را تحکیم صلح و امنیت خواند

کابل :
محترم مولوی قدرت الله جمال وزیر اطلاعات وکلتور قبل از ظهر دیروز با عده ئی از نماینده گان اهل تشیع ملاقات نمود؛ اژانس اطلاعاتی باختر خبرداد : در این ملاقات ابتدا ، محترم سیدمحمد تراب حیدری ومحترم مهدوی که قبلاً در رأس هیات
ص٤

دلندن جیمزډیفنس او نیزه

د مسعود په لیکو کی عملاً بهرنی عسکر موجود دی

لندن :
په لندن کی خپریدونکی «جیمزډیفنس» او نیزی دخپل بوه
٤ مخ

در ولسوالی خلم :

یک مقدار سلاح و مهمات کشف گردید

سمنگان :
یکمقدار سلاح ومهمات از گذر باغ کلان ولسوالی خلم ولایت سمنگان توسط موظفین امنیتی کشف و به دست آمد .
خبرنگار اژانس اطلاعاتی ... از شهر ایبك خبرداد سلاح و مهمات متذکره که توسط موظفین امنیتی ریاست استخبارات ولایت
ص٤

د شهیدانو او مهاجرینو وزارت استازي :

په چراټ، شمشتو او ناصرباغ کی دمهاجرو حالت ګوروونکی دی

پیښور :
د شهیدانو او مهاجرینو د چارو هیأت استازی د شمشتو په نوی کمپ ، ناصرباغ او دجلوزو په کمپونو کې دمیشتو افغانی مهاجرینو حالت دردوونکی وبالهاو هغوی یې د هر راز بشری مرستو ور وبلل .
٤مخ

دراثرگرمای شدید درکمپ جلوزو ٩کودک فوت نمود
دراین کمپ کمبود آب آشامیدنی وغذا محسوس است

پشاورمنابع خبری :
به اثر کمبوداب وغذا وگرمای شدید درکمپ جلوزی پشاور ٩ کودک جان خودرا از دست دادند ،موسسات کمك کننده هم درده روز اخیرهیچ کمك دارویی وغذایی دراین کمپ انجام نداده اند گفته میشود تنها در یك روز یکتن مهاجر بنام قادر چهار طفل فوت نموده است .

پارك تفریحی وورزشی اطفال عنقریب افتتاح میگردد

کابل - شریعت:
کارپارك تفریحی وورزشی اطفال درساحه مکروریان اول نودفیصد تکمیل گردیده است .
محترم انجنیر محمد امین پرتو
ص٤

از طرف ریاست قوانین صحی وبررسی در ربع اول سال

٢٧٦ قلم ادویه تاریخ گذشته محو گردید

کابل - شریعت :
ریاست قوانین صحی وبررسی وزارت صحت عامه درراستای فعالیت های خویش به تعداد (٢٣٢) درملتون را رسماً افتتاح نموده است . این مطلب را محترم مولوی احمد جان احمدی رئیس قوانین صحی وبررسی وزارت صحت عامه به خبرنگار ما گفته
ص ٤

شفاخانه رابعهٔ بلخی مجهز با ماشین التراسوند واکسری گردید


عکس : شعبه اکسری و ماشین التراسوند شفاخانه رابعه بلخی را نشان میدهد عکاس: یوسف

کابل- شریعت :
شفاخانه رابعه بلخی مجهز باماشین التراسوند گردید.
محترمه پوهنیار رحیمه ستانکزی رئیس شفاخانه رابعه بلخی به خبرنگار ما گفت :
اخیراً وزارت صحت عامه امارت اسلامی افغانستان بخاطر خدمت بهتربه مادران ومریضان اناث یک پایه ماشین التراسوند (معاینات تلویزیونی) را در شفاخانه رابعه بلخی فعال نموده که روز انه تاده مریض طور رایگان توسط آن معاینه تلو یزیونی میگردد .
همچنان موسسه محترم W.H.O یا سازمان صحی جهان دوپایه ماشین اکسری را به شفاخانه رابعه بلخی کمک نموده است . درانی

موسسه رفاه سیدجمال الدین

٨٠٠ نفریتیم را دربخشهای مختلف تحت آموزش قرارداده

کابل - شریعت:
موسسه رفاه سیدجمال الدین افغان یك موسسه عالم المنفعه بوده وهرسال به مردم مستحق، بیچاره وایتام شهر کابل کمك های
ص٤

چراخربوزه ارزان نمیشود ؟!

کابل - شریعت :
بالابودن قیمت خربوزه در شهر کابل منوط به کمیت تورید آن از صفحات شمال و جنوب غرب کشور به کابل می باشد نه وابسته به صدور و تجارت آن به پاکستان و یا ...
خبرنگار ما درزمینه چنین گزارش میدهد :
از طی ده روز بدینسو مارکیت خربوزه و تربوز (چمن ببرك) در شهر کابل با تورید خربوزه از ولایات مزار ، بغلان و کندز جوش و خروشی خاصی بخود گرفته است ؛ اما آن چنانیکه مردم ، امسال انتظار ارزانی و فراوانی خربوزه را مثل تربوز درشهر کابل داشتند این امیدواری آنان تا به حال به
ص٤

په جرمنی کی دوه لوی جوماتونه افتتاح شول

فرانکفورت:
په جرمنی کی داسلامی تنظیمو نوله لوری دوه لوی او ښکلی جوماتونه پرانیستل شول خبر زیاتوی لومړی جومات له فرانکفورت ښارپه ١٥ کیلومتری کی دتوحید په نامه او دوهم جومات په آخن ښ کی دفتح په نامه آباد شوی چې په دواړو جوماتونو ٣٥ لکه جرمنی مارک لګښت شوی دی دپرانستلو په مراسمو کی د مراکش سپفیر هم ګډون کړی ؤ .

ص ٣
پاداش محبت

وحشت روسها در چیچنیا به اوج خود رسیده است
روسها دریك تلاشی هزاران خانواده چیچینی را بی خانمان ساختند

مسکو:
احمد ویروف یکتن از دستنشانده روس ها درچیچن بالای قوای متجاوزروس انتقادنموده که قوای روسیه به بهانه تلاشی هزاران تن از مردم بی دفاع چیچن را بی خانه ساخته ودرمقابل مردم از انتهای بی رحمی وجنایت کار میگیرند نامبرده افزوده که دراین عملیات یك نفر
ص٤

عکس : وسایط نظامی روسها که توسط مجاهدین چیچن از بین برده شده است

اسرائیلی ټانکونو د فلسطینیانو کورونه ونړول

بهرنی خبری سرچینی - شریعت:
د اسرائیلو ټانکونو او بلډوزرونو غزې د ترانګی دمهاجرو په یوه کمپ کې د فلسطینیانو کورونه او ودانی تباه کړیدی ، رپوټونه وایی چې دری
٤مخ

محصلین پوهنتون تهران بازبه شورش آمدند

رادیوتهران - شریعت :
درمقابل پوهنتون تهران بین پولیس انتظامی ومحصلین تظاهرکننده درگیری شدیدی رخ داده است این تظاهرات بخاطر یادبود مظاهره ای بودکه دوسال قبل از طرف محصلین صورت
ص٤

عراق اجازه صدور نفت راازسازمان ملل حاصل نمود

صدای امریکا - شریعت :
سازمان ملل متحد وعراق بر سرقویل برنامه فروش نفت درمقابل غذا به موافقه رسیدند. خبرها حاکیست طرفین دراین مورد
ص٤

امریکا او انګلستان بیا دعراق خلک په باروتو ولمانځل

بهرنی خبری سرچینی - شریعت: امریکا او انګلستان هوایی ځواکونو پر عراق برغل بیا برغل وکړ او دبصری په شمول یې د عراق په یوه سیمه بونه وغورځول چې یو شمیر کسان یې ژوبل کړی دی . په دې حمله کې د جا ده مرګ ژوبلې تراوسه نه دی ورکړل شوی .

سرمقاله
دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

«لندن» جرګه - دروغی خبری که یاغی
ډلګی ته د نورو جګړو مورال ورکول ؟!

ملګرو ملتونو یو ځل بیا د افغانستان په اړه د خبرو اترو لپاره (٢+٦) او یو شمیر هغه هیوادونه را بللی ؤ څوک چې په دې مورد کې رغبت او تلوسه لری جرګه په لندن کې د جمعې په ورځ پیل او له دری ورځو پر له پسې مذاکراتو وروسته پای ته ورسیده . له معمول سره سم په دې غونډه کې هم کوم افغانی لوری حضور نه درلود او په همدې بنا ویلای شو نړیوال په څرګنده افغانانو ته دا پیغام ورکول غواړی چې ګویا «دا زموږ خپلې خبرې دی او که تاسو څه کول غواړئ نو په خپلو کې سره
٢ مخ

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې گڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
ټیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات : ٦۲۸٥۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتی مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

جرگه شي» که څه هم ظاهراً داجلسه د افغانانو د کورنی ستونزي او روغي جوړي د څیړلو په عنوان وه خو له بده مرغه په واقعیت کي زیاتره هغه لوری سره جرگه شوی ؤ چې د دې بحران اصلی مسئولیت په غاړه لري . له بلې خوا ملگری ملتونه هم د افغانستان په پیښو کې بې طرفه نه دی او په څرگنده د یوې ورې جگړه ماري ډلگۍ ملاتړ کوی . نو له همدې امله زیاتره کتونکی په دې نظر دی چې د لندن په غونډه کې د روغي خبري نه بلکې نوري خبري وې چې په حقیقت کې د بحران د لاسختولو او جگړو د اوږدولو په مقصد ترسره شوې دی . او داځکه چې د هیواد په (۲۸) ولایتونو کې د سولې او ثبات په ټینگښت سره نور نو جگړه ماري ډلې ته هیڅکله هم د وسلې استعمالولو جواز نه پاتې کیږی خو همدغه له هیواده بهر د یوځای او بل ځای جلسې او مرکې دی چې مخالفینو ته د جنگ جگړو داډ گیرنه او زوورتیا ورکوی او په دې توگه له دې موضوع نه یوه نړیواله کشاله جوړوی . د لندن غونډه له همدغسې جلسو نه یوه بله جلسه ده چې اصلی موخه یې د افغانانو د بدمرغیو او مصیبتون دلازیاتولو او جگړو د اوږدولو لارې چارې لټول او جگړه مارو ډلگیو ته یو څو شپې عمر ورکول دی . حقیقت دادی چې د افغانستان ستونزې په لندن ، روم ، قبرس او ژنیو کې نه بلکې دننه په افغانستان کې او له بهرنیو طرحو پرته په خپله د افغانانو له خوا د حقایقو په منلو سره حل کیدای شی ، نه د نورو لاس وهونکو او مغرضو خواؤ په زور ، فشار او غوښتنو سره . افغانانو ته په کار ده چې نور د غفلت له خوبه را ویښ ، د خوش باوری له اتکلونو تیر او د نړیوالو په شیطانت او درغلی ځان پوه کړی . افغانانو باید له تیر درویشت کلن زمانی دور نه دا درس اخیستی وی چې په یهود ، روس او پرنگ پورې د خپل کور او ملت د ودانی او سوکالی هیلې تړل بیخي عبث او لوی حماقت دی نو راځئ نور په خپله ملا و تړو او د پردیو په طمع ځان و نه غولوو .

داسلامي نړۍ طبابت ته لنډه کتنه ۹

ابوبکر محمد بن زکریا رازی : دهغی زمانی طبیبانو په منځ کی یوکس کولای شو دابن سینا سره مقایسه کړو چی هغه محمدبن زکریا رازی دی .

دغه پوه داین زکریا ، ابو بکر رازی‌په‌نامه یاد شویدی او اعراب هغه دالرازی او دلاتین مولفین ورته RAZES ویلی دی. رازی چی په جالینوس العرب ملقب ؤ په ۸٦٤ م او په بل روایت داگست ۲۷-۸٦٥ م کال په ری کی تولد شوی او په ۹۲٥م کال کی مړشویدی رازی فیلسوف ، طبیب او دکیمیا او طبیعی علومو متبحر عالم ؤ چی په فلسفه کی د بلخ مشهور فیلسوف ابوزید احمد بن سهل شاگره ؤ هغه په ځوانی کی مو سیقی سره علاقه درلوده او دنای - (شپیلی) په غږ ولو کی یې خاص مهارت درلود . هغه دصرافی له لاری ژوند کاوه او وروسته یې دفلفسې په برخه کی ځان مصروف کړ.

دده مینه طبابت سره په ۳۰ کلنی کی هغه وخت پیدا شوه چی بغداد ته ئی سفر وکړاو هلته مقتدری روغتون ته لاړاو دسپین گیری درمل جوړو نکی سره په خبر وکی دی علم سره ډیر علاقمندشو او بله ورځ بیا هغه ځای ته لاړچی دیو طبیب سره مخامخ شو او یو جنین چی دو ه سرونه ئی درلو دل او نوی زیږیدلی ؤ هغه ته وښود. د جنین دلیدلو نه وروسته او څه چی زوږ درمل جوړونکي ورته ویلی ؤ تصمیم ئی و نیو ئې دطبابت مطالعې ته

پوهاند عبدالحي مومني

دوام ورکړی او دغه علم تر هغه چی امکان لری زده کړی ممکن رازی خپل تصمیم ته په بغداد کی ادامه ورکړی وی چی دطبابت په برخه کی ئی لوړمقام وگاټه ، خو عقیده ، پردی ده چی (قفطی) هغه په « ری » کی طبابت د ابن سهل نه په جدی توگه زده کړی دی .

کله چی رازی له بغداد» «ری «ته ئې دروغتون مسؤلیت ورته سپارل کیږی وروسته بیا بغداد ته ئې اوهلته دمقتدری روغتون رئیس ټاکل کیږی .کله به چی ناروغ روغتون ته مراجعه کوله لومړی به دده شاگردانو ناروغ معاینه کاوه او کله چی ټول به عاجز پاتی شول بیا به پخپله رازی دناروغ تشخیص کاوه او تداوی ته‌به یې اقدام وکړ.

رازی دمقتدری په روغتون کی دومره شهرت پیدا کړچی ډیر لوی خلک حکام او امرادی روغتون ته تلل.وائی چی دده سره دیو روغتون دجوړلو په هکله مشوره وشوه دده وویل چی دښار په گوټ گوټ کی غوښه زوړند کړی او هره هغه ټوټه چی تر نورو وروسته خو سا شوه(تفسخ ئی وکړ) هلته دی روغتون جوړشی .

وائی چی دده دعمر وروستی وخت په عزلت سره تیر شو او دسترگو ددرد ل‍ـ کیله ړوند شو ، ده ونه غو ښتل چی سترگی ئی عملیات شی . ځینې ده زیات کار په کیمیا کی دړوند والی علت بولی.ځینې وایی چی کوم مورسړی دطلا دجوړ ولو لپاره ډیری پیسې ولگولی مگر نتیجه ئی ورنکړه هغه په قهر شو او دی ئی پر سروواهه چی بالاخره ړوند شو.

پاتې لري

نظاره ای بریك کار حشر در ناحیه یازدهم شهر کابل

دریکی از روز های جمعه شاهد کار حشر در ساحه ناحیه ۱۱ بودیم . مردم این ساحه با براه اندازی کار حشر، جویچه های دوطرف کوچه شانرا از وجود کثافات جامد پاکسازی وپاکدنکاری اساسی ، آنرا به آبرو عمومی وصل نمودند .

اهالی این ساحه که بیل و کلند بردست وهمچو حلقه زنجیر اتصال و پیوست به نظر می رسیدند .اظهار داشتند: «برادر ! طی سالهای متمادی جویچه های دهن خانه های ما از کثافات آلوده گردیده و آب های گندیده در آن تراکم کرده بود ! به شما معلوم است که این آب های ایستاده باعث سرایت انواع مرض ها شده میتواند بناءً ما مردم محل همه تصمیم گرفتیم که هرچه زود تر این مشکل عمده محیطی خود را با براه اندازی کار حشر حل نمائیم . در پاك کاری جویچه ها و کندن آن به شکل اساسی ، ما حتی حاضر شدیم دهن خانه های ما که قبلاً کانکریت گردیده بود ، آنرا دوباره بکنیم و مطابق نورمی که نماینده کوچه و اهالی تعین نموده اند عمل بکنیم .

از وی پرسیدم چطور شما از کدام موسسه یا مرجعی درین زمینه کمك نخواسته اید ! تاکی انتظار کمك های بیرونی بنشینیم ؟ چرا ماخود به مشکلات محیطی خود رسیدگی نکنیم ؟ ! اما از نواحی محترم شاروالی کابل منحیث مراجع تنظیفی وتنظیم کننده توقع داریم تا در ترغیب اهالی ساحات رهایشی شهر کابل بخاطر پاکی محیط زیست و توجه به حفظ الصحه محیطی شان در براه اندازی کار های حشر سهم انسانی و اخلاقی شانرا فراموش نکنند وهمینگونه از موسسات خیریه غیر امارتی تقاضای ما اینست تا موادی را که به شکل رایگان در اختیار مستحقین مساعدت قرار میدهند . لطف کنند بخاطر اعمار جویچه ها وبازسازی پل و پلچك وسایر نیاز های محیطی مردم به شکل مزد در مقابل کار در اختیار مردم و مستحقین قرار دهند تا عده یی از مردم را که اینگونه عادت کرده تغییر داده وبه تحرك کاربیندازندزیرا گرفتن اینگونه کمك های رایگان حتی بالای شخصیت انسان اثرات منفی بجاه خواهد گذاشت » .

واقعاً کار حشر چنان ادامه داشت که گویی کار را اجاره گرفته اند و میخواهند به سرعت به پیش برده و هرچه زودتر انجام دهند . از یکی ازباشنده گان محل که مصروف کار و عرق ریزی بود چگونگی کار را پرسیدم گفت : هر خانه مسئولیت کندن وپاك کاری جویچه مقابل خانه خود را بدوش دارد ».

آنسوتر با مرد مسنی که بیش از هفتاد بهار زندگی را پشت سرگذاشته بود بیل در دست و دریهلوی پسران جوان اش مصروف کار بود ، داخل مفاهمه شدم وی خیلی راضی از اینکار به نظر می رسید و بخاطر پاکی وصفایی منطقه شان اظهار کار وتلاش بیشتر را باوجود ضعف وپیری نمود در کنار دیگر سرك از مرد نسبتاً مسن و میانه قدی پرسیدم : به نظر شما اینکاری را که راه اندازی نموده اید چقدر موثر خواهد بود ؟ گفت : گرچه ما از صبح تا حال مصروف کار وعرق ریزی بودیم اما چند ساعت زحمت کشی ، ارزشی آنرا دارد که برای مدت زیادی از نظر حفظ الصحه محیطی زندگی را حتی داشته باشیم و با اینکار از تجمع کثافات وپشه ها جلوگیری نمائیم وی افزود من منحیث باشنده شهرکابل از مردم سایر نواحی ومحلات شهر، این آرزو را دارم که با الهام گرفتن از براه اندازی کار های حشر ما بخاطر تنظیف وپاکی محیط زیست . آنها هم به مسأله حفظ الصحه محیطی شان توجه نموده و به رفع مشکلات محیطی شان بپرازند تا خود ، فامیل و محیط و ماحول شانرا از آلودگی نجات بخشند ، زیرا اگر هر کس دهن خانه خود را پاك وصفا کند این به معنای پاکی شهر ، محل و محیط زیست ماست » .

اسدالله «عبادی»

سوړجنگ اودهغه تاریخي پس منظر! ۲

د یو المانی الاصله امریکایی فزیک پوه ، «اوپن هایمر» په وینا د پخوانی شوروی اتحاد او د متحده ایالاتو اتومی ځواکونه دوه لړمانو ته ورته ؤ چې یو دبل په خوا کې ولاړ ؤ او هر یو بوازې د خپل ځان په بیه کولای شول یو بل د مرگ په دلیشه» له منځه یوسی چې په هیڅ قیمت او بیه نه ارزیده .

خو که جنگ د پورتنیو دلایلو له مخې رد وی د دولتونو ترمنځ اختلاف زمونږ په شرایطو کی رداومنفی نه دی نو داختلافونو بقا او په پاتې شوني جنگ ته نور شکلونه او بڼې وربخښلی دی چې تر ټولو غوره نمونه یې سوړ جنگ په عنوان او نوم پیژنو د سوړ جنگ اصطلاح د سیاستمدارانو او ورځپانه لیکونکو له خوا د دوهم نړیوال جنگ په لومړیو کلونو کی رواج موندلی ، دا اصطلاح ساده مانا او مفهوم نه لری بلکې تر یوه حده ډېره مبهمه او گنگه ده .

دډیرو تاریخ لیکونکو په عقیده د سوړ جنگ اصطلاح د لومړی ځل لپاره د یو پخوانی پانگوال «باروخ» چې ډیر کلونه د وخت د یو جمهور رئیس «فرنکلن روزولټ» مشاور ؤ په هغو ویناوو کي په کار وړله شوی چې یو بل ولس مشر «ترومن» له خپلو نظریاتو نه د دفاع په مقصد له شوروی کمونستانو سره د مقابلې لپاره د یونان او ترکیې نه د ملاتړ په خاطر ورکړی وه .

باروخ دا بیانیه په ۱۹٤۷ میلادی کال واوروله ، دهغی نیټی نه وروسته یو امریکایی نومیالی سیاسی مبصر او ورځ پانه لیکونکی «والټرلیپمن» یو لړ مقالې د سوړ جنگ تر سرلیک لاندی ولیکلی او د دی اصطلاح لپاره یې د نړی په سیاسی قاموس کی ځانگړی او خاص ځای پیدا کړ خو په حقیقت کی د دې اصطلاح جرړی او ریښې د انگلستان د وخت د لومړی وزیر «وینیستون چرچیل» په ویناؤ کې چې د متحده ایالاتو د میسوری آیالت «د فولټن» په ښار کې چې د ترومن د زیږیدلو اصلی ټاټوبی ؤ ، کړی وه .

تومړی په ۱۹٤٦ میلادی کال دهمدې ښار د «ویست منیستر کلتور» په تالار کې دابیانیه ورکړه . چرچیل د شوروی دیکتاتور «ستالین» د پراختیا غوښتنی په نقشو او طرحو سخته حمله وکړه او ښکاره یې کړه : د روس اوسپنیزه پرده ، د «انشتین بندر د پولو نه د اروپا د «ترست » بندر تر پولو ، پوری په دو برخو نیمه شوی او هغه څه چې د پردې ترشا تیریږی مونږ ترې بې خبره یو خو پوهیږو چې د دیموکراسی اصول تر پښو لاندې شویدی د زور او فشار قوه د خلکو د ژوندانه په ټولو خواؤ مسلطه ده ، د ظلم حکومت چلیږی د جنگ د وخت نه مې یو شی ښه په زړه دی او هغه داچې روسی دولتونه هیڅ شی ته دومره ارزښت نه ورکوی لکه پوځی ځواک او دیکتاتوری ته .

چرچیل د خپلې وینا په دوام انگلیسی ژبې ملتونو ته بلنه ورکړه چې د شوروی د پراختیا غوښتنی په وړاندې را پورته شی او پری نږدی چې آزادنړی د کمونیزم سیلاب پرمخ یوسی . »

خو ستالین د چرچیل د دې وینا په ځواب کې د پراوداه ورځپانې د خبریال سره د مرکی په ترڅ کې څرگنده کړه : « که چرچیل او د ده نړیوال انډیوالان و غواړی یوځل بیا هغه عمل تکرار کړی چې ۲۹ کاله وړاندې د ختیځې اروپا په هیوادونو یرغل کړی ؤ نو دا وار به هم تار و مار شی . » د متحده ایالاتو بهرنیو چارو وزارت او د انگلستان کارگری دولت دا بیانیه په ښکاره وغندله په داسې حال کی چې پرزیډنټ ترومن ، د چرچیل د وینا د اوریدلو لپاره د واشنگټن نه فولټن ته راغلی ؤ او د ځینو سیاسی کتونکو په عقیده چرچیل د خپلې اصلی وینا د مطالبو سرلیکونو او عنوانونو په اصلی ټکو له ترومن سره د نظر تبادله کړی وه .

حقیقت خو دادی چې سوړ جنگ بیل ، بیل ډولونه او اړخونه درلودل چې دهغه وخت د هیوادونو ترمنځ اړیکو ته یې رنگ او شکل ورکړی ؤ دا ډول حالت څرنگه او په څه شرایطو کی رامنځ ته شو !

«اندره فونتن» فرانسوی ژورنالست او تاریخ لیکونکی چې د سوړ جنگ تاریخ یې لیکلی دی پوښتنې ته ځواب ورکوی :

«سوړ جنگ نشو کیدای چې را منځ ته شوی وای خو د تیری پیړی په دوهمه نیمایی کی دوه دولتونه ، یوازې دوه دولتونه د خپلو پراخو ، قلمرونو او ځمکو سره د خپلو منافعو او ډیرو وگړو ، پخې عقیدې ، اخلاقی ارزښتونو او بشپړ ډاډ د خپلو ډول ، ډول وسلو په کارولو او استعمال سره په نړۍ باندې د لاس بری د مفکورې په رامنځ ته کیدو د دې کار په لټه کې شول د سوړ جنگ د راښکاره کیدو بل شرط دا ؤ چې له دغو هیوادونو یو هم نه شو کولای په پریکنده ډول ، یو په بل باندې بریالی شی . »

د اندره فونتن ځواب د نړی په دوه قطبی والی او انډول باندې تکیه لری .

یو بل د نظر خاوند «هانس مورگن تا» د سوړ جنگ لپاره په دوو خاصو او ځانگړو خصوصیاتو قایل دی چې هغه د تیرو جنگونو نه بیلوی او هغه عبارت دی له :

۱- د اختلافونو د حل لاره د جنی وهلو د سیاست نشتوالی او د سولې لاره د لویو گټو او منافعو او سختو دریځونو په سبب په جنگ کی د راښکیلو دولتونو نه ترمنیت .

۲- په بل دولت باندې د زور او فشار اچولو اړتیا د خپلو اساسی گټو د ساتلو لاره په بیلابیلو ډیپلوماتیکی ، پوځی ، اقتصادی او نورو وسایلو سره پرته له زور او فشار نه .

د دې تعریف نه د سوړ جنگ یو روښانه عکس او تصویر په لاس راځی او په اصطلاح داسې یو تعریف چې نسبتاً جامع او د جنگ مختیوی کوی ځکه سیاستمداران نشی کولای او نه غواړی چې موجوده اختلاف د خپرو اترو له لارې حل کړی ځکه اختلاف ښکیلې خواوې نشی کولای په یو رښتینی جنگ لاس پورې کړی په دې شرایطو کی خاصه پاملرنه د تبلیغاتو سختوالی او د دښمنو خواؤ اړیکو شکیدل او د دولتونو ترمنځ د دوامداری دښمنی رامنځ ته کیدل ؤ .

«رمون آرون» په خپل کتاب «جمهوری گشا» کی لیکی : په سیاسی لحاظ د نړیوال لاس بری لپاره هلې ځلې او د نړی په دوه قطبی والی او دخبرو اترو د امکان نشتوالی او په دښمنی باندې ټینگار ، دخپلو گټو د تأمین د پراختیا په خاطر په ټولو وسیلو سره پرته د جنگ څخه د سوړ جنگ د تعریف لاره کفایت او بسوالی کوی . او په دې باور دی چې ، یادشوی تعریفونه د سوړ جنگ او په سوله کی د گډژوند (Peace Feul Coxistence) ترمنځ یو روښانه توپیر دی د «هابس او روسو» په وینا دولتونه په پرله پسې توگه د جنگ په شرایطو کی ژوند کوی خو په بیلا ، بیلو پړاوونو کې د جنگونو اندازه او خپل دښمن د زور او فشار لاندې را وستلو شرایط بدلون ‌کوی .

دشعر او ادب نړی

چـــې کـــشور دافـــغـــانانو معطر کـا
دهربیت مصرع مې زلفې دخوبان کړی

حمید

اسیرت را نپـرسیدی که حالش در اسارت چیست
به هجران سوختی اما نگفتی کاین شرارت چیست
بدرد و محـنت وانــدوه هــجران ساختی همدم
نپرسیدی که حـالش در دیار رنج و محنت چیست
به اندوه و فغـــانم ســـاختی هم مشرب بلبل
چـــنین بیداد بــر مشت پری ای بیمروت چیست
بکوی بیــکسی دورا از دیـــار ، یار وهم باور
بکنج تار زنـــدانم نپـــرسیدی که تهمت چیست
بکوه و دشت وهـامون ســاختی ام واله وحیران
بگو جانا ازین بیـــشتر ، بپاداش محبت چیست
خزان زندگانی بـــر گ و بارم ریخت بصد حسرت
نکردی یاد کاین گردیده تاراج بـغارت چیسـت
بپـــاداش محـــبت گـــرمیان آتشم سوزی
حمید هرگز نخـــواهم گفت که فرجام محبت چیست

دسحار ستوری

غمخوار «قلات وال»

کــار وان د سپــین پـــګړیو ته ګلونه نځیدل
په سیـــمه د امــــید کې ارمـــانونه نځیدل
شـمشاد نه تر پامیره تورو شپو سلګۍ وهلی
رون ستوری د ســـحر ته مشـــوقه نځیدل
غـــوټی د امـــیدونو مـــوراو سپرلی ګلونه
خــــزان په منده تلــلو بهار وتـــه نځیدل
غوسه د اسمانی وه که د سپینو تورو شرنګ ؤ
چې زما بندو لاســو کـــې زنځیرونه نځیدل
ورمې د سباوون مـــو د تکبیر په اذانګو کې
تـــازه کـــرل ګلـــکځونه ګودرونه نځیدل
دظـــلم ځــــاله ورانه فـــادونو کده کړی
د هر طالب په لاس سپـــین بیرغــونه نځیدل
اوس ناوې د وطن یې ښـــایسته کړه مبداجانه
سینګار شوه په حیا ورته خـــالونه نځیدل

تنها ترا میجویم !

محمد حکیم «نظری»

تنها ترا میجویم
در نیمه های شب
با چشمان گریان
باقلب پراز مهرم
تنها ترا میجویم !
از باد صبحگاهی چون میوزد زمشرق !
وزناله های مرغان صبح ، چون مدح تو گویند
و زشگفتن گلهای بهار ،
ای همدم دلها !
با سوز وگداز عشق
در دیار شوق :
تنها ، ترا میجویم !
از کوکب درخشان !
و زما هتاب خندان !
زآفتاب روشن
با چشم اشك ریزان !
تنها ، ترا میجویم !
بلی !
تنها ! ترا میجویم !!

څلوریزه

حنیفي

د منزل په لوری پل په پل قـــدم ږدم
سپین بیرغ د آزادۍ به چم په چم ږدم
له پیچومو ګـــرنګونو نه تیـــرېږم
د «ناهید» سر ته ګلان رقم رقم ږدم

په پښتو شعر کې مذهبي څرکونه

دثبات لیکنه او څېړنه

۱۳

خوشحال ختک او دهغه په شعرونو کې عرفاني پلوشې

خوشحال ختیک که څه هم د عمومي شهرت له مخې د توري او قلم شاعر پیژندل شوی دی خو بیا هم که د ده اثارو ته کتنه وشي ، نو د توري او قلم د وصفي انتساب تر څنګه دی یو عرفاني شاعر او د تصوف په ډګر کې یې هم وتلي شعرونه ویلي دي ، ښکاره ده په دې برخه کې چې یې کوم شعرونه ویلي دي د پوخوالي، سلاست ، جامع توب او هنري کمال په اعتبار تقریباً یې څېړو سمندر ته پاتې کیږي چې د بر ارتوالي او ژوروالي لري او د هنریت د مدارجو په څوکو یې عرفاني لمر څرکونه خپاره دي .

که څه هم بې له شکه په تصوفي او عرفاني شعرونو کې رحمان بابا د غیب اللسان شاعر په توګه او «د الشعرا ، تلامیذالرحمان » دکتار د لوړ پوړو شاعرانو له ډلې نه د لوړ نوم او برم درلودونکی دی خو خوشحال ختیک د! د توري او قلم یې جوړې شاعر په روحاني او عرفاني شعرونو کې د یزداني جمال او کمال په برجسته توګه ځلیدونکی دی ، او ښکاره دلیل د ده د ۱۲ منظومو او منثورو اثارو په جمله کې یې دري اثاره لکه :

هدایه : د فقهي د مشهور کتاب «هدایې» پښتو ترجمه .

آئینه دفقهي په باب کتاب .

فضل نامه : د مذهبي مسألو په متعلق اثار دي :

که خوشحال ختیک په لنډه توګه معرفي شي نو :

خوشحال ختیک په ۱۰۲۲ هـ ق د دوهمي خور په میاشت (د مې – جون ۱۶۱۳ م) کې د شهباز خان کره د اکوړې په سرای کې زیږیدلی دی ، او نیکه یې یحیی خان د مغلو د امپراطوري یو منصبدار ؤ .

اکوړه د پېښور د ښار نه ۳۵ میله لمرخاته خواته پروت دی .

خوشحال ختیک سبق ویلی ، متداول علوم یې لوستي او د زیاتي علمي ادبي او رزمي پوهې درلودونکی ؤ .

خوشحال ختیک له ۱۶۲۲ م کال راهیسې په شعر ویلو پیل کړی دی او د ۷۶ کلو د ماجراګانو او حوادثو نه ډک عمر وروسته په ۱۶۸۹ کال له دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې دي .

که د خوشحال ختیک کلیات تر مطالعې او څېړنې لاندې و نیول شي د ده د اشعارو د رڼه اسمان په هسکه فضا کې د ده تصوفي او عرفاني شعرونه هم لکه رڼه ستوري ځلیږي .

چې په دې محدوده لیکنه کې په هغو ټولو هر اړخیز بحث کول یو کتاب خبرې غواړي ، نو دادې دلته دحسن نمونې په توګه د هغوی له منځه په ځینو شعرونو بیرني خبرې کیږي :

د خوشحال خان د کلیاتو لومړنی شعر چې د فقهي په رڼا کې لیکل شوی د الله تعالی د بې ساري صنعت د فهم او خیال نه دیهر خلقت ډېر لوړ مدارج په اثبات رسوي په دې شعر کې خوشحال ختیک د خپل ایجادګر قلم په واسطه د انسان یعنې د« احسن التقویم » او اشرف المخلوقات ، مخلوق د څېرې انځور ایستلی او دهغې په ځینو غړیو کې یې د خالق تعالی د بې همتا صانع او خالق دکمالیاتو تجلیاتو ته داسې انعکاس ورکړی دی .

صورت ګرچې ښه صورت په دیوال ساز کا
کل عالم یې په صفت زبان دراز کا
دهغه نقاش په صنع نظر نه کا
چې له څه څاځکي نه دانقش وطراز کا
سترګې ورو ځی ، پوزه نور کیږدې په مخ کې
غاښ دشونډی ، ژبه خوله سره پرداز کا
یو سربل سر په سر جوړ کا ، دوه غوږونه
چې په دادواړو او ریدنه دآواز کا
بند په بند دلاسو ګوتې و بله کیږدی
سرترپایه درست صورت سره یو راز کا
که څوک زر کتابه وکښي له دې بابه
که په کښل شي ، زر به نور پسې آغاز کا
هر وبښته چې په صورت باندې لیده شي
که پرې څیرشي دشناخت وربه درته واز کا
خاص بنده دخدای هغه ګڼه خوشحاله !
چې دځان په معرفت یې سر فرا زکا

پاتې لري

وښیه څوک دی ؟

الفت

اصلی نوم یې نشم اخـــستلی مګر رسمي نوم یې مامور صاحب دی په کار نه پوهیږي مګر په خو شامد اوچاپلوسي ډېرنه پوهیږي .

دلویانو او معتبر ینو په مخ کې دحاضر باش او خانه سامان کـــار کـــوي مګر دا خـــوارانو او غریبانو سلام هم نه اخلي سواد نلري مکتب یې نه دی لوستـــی مدرسه یې نه ده لیدلی اخبار او کـــتـــاب نشي لوستلی مګر ماموریت کولي او ساتلی شي .

په درباري او ضاعو کې دټولو اســـتـــاذ دی مګر انســـانیت او سړیتوب یې هیڅ نزده .

مکتـــوب نشي لیکلی مګر سطرنج کولی شي .

لیاقت نلري مګر ډېره ډېډۍ لري .

دخدای طاعت ته یې ملاماته ده مګر دامرانو په طاعت کې اول لمر اخلي .

دنیایې ډېره ده مګر همت یې کم دی .

تخوایې لږده او جایداد یې ډېر دی .

مسافر او فقیر ته یوه سوی مړی نه ورکوي مګر میلمنو ته هره شپه چرګان حلالوي غل نه دی مګر له غلو سره سمه ونډه برخه لري .

ساحر نه دی مګر په یو څو خبرو لوی لوی خلک ړانده او کاڼه کوي .

ناول، داستان، رومان، ادبي ټوټه او ډرامه په ادبیاتو کې

د علي محمد «منګل» لنډه څېړنه او لیکنه :

ناول او حکایت یا کیسه د حماسي ادب یو ډول دی . د ناول فورم او شکل کوچنی او عموماً د یوه سړي په ژوند کې په یوې خاصې پیښې باندې رڼایي اچوي . ناول د یوه سړي په تیرې (ماضي) او را تلونکې (آینده) باندې هم خبرې نه کوي . د ناول توپیر او فرق له داستان سره دادی چې د استان کې څو پیښې راغلې وي او هنري قهرمان په یوه مکمله دوره باندې رڼایي اچوي . د ناول په لیکلو کې د لیکوال هنر دادی چې په یوه وړه صحنه کې د یو انسان د ژوند خاصې او مخصوصې ممیزې انځور وي ... په جهاني ادبیاتو کې ډېرو زیاتو لیکوالو واړه واړه ناولونه او کیسې لیکلي دي ...

داستان هم د حماسي ادب له ډولونو څخه دی . په داستان کې د ناول په عکس او خلاف څو بیلې او مختلفې پیښې منعکس شوې وي او دهنري اثر د قهرمان په ټول ژوند باندې خبرې او څېړنه کوي او دهغه مختلفې پیښې اودوری لوستونکو ته ورجوتوي او ورښیي یې . په داستان کې د قهرمان نه پرته څو کسه نور هم کار کوي . په نړیوالو ادبیاتو کې ډېرو پخو او تکړه لیکوالو ډېر ډېر داستانونه کښلي او لیکلي دي ...

رومان فرانسوي کلمه ده ، رومان هم د حماسي ادب یو خاص ډول دی ، په رومان کې دانساني او بشري ژوند پیچلي او مغلق موضوعات او پروسه منعکسه کیږي او منعکسه شوي دڅې داد اجتماعي ژوند د تابلوګانو پیچلتوب ، مغلقوالي او هر اړخیزه تشریح هم لري . په رومان کې د قهرمانانو او اتلانو تعداد او شمیر زیات وي .

په اوولسمه او اتلسمه پیړۍ کې رومان په اروپا کې هغه ناول ته ویل کیده چې د رومي ژبو څخه په یوه (هسپانوي ، فرانسوي ، ایتالوي او پرتګالي) ژبه لیکل شوي ؤ . په هغه وخت کې ادبي آثار په لاتیني ژبه سره لیکل کیدل . او دا وخت لاتیني ژبه مړه شوې ژبه بلل کیده او خبرې نه وربانډې کیدې ، خو هنري او ادبي آثار پرې لیکل کیدل او له همدې کبله څخه د رومان کلمه په ادبیاتو کې را پیدا شوه . په نړۍ کې ښو لیکوالو ډېر ښه رومانونه له ځان څخه د ادبي شهکارونو په توګه پرې ایښي دي ...

ادبي ټوټه هم د حماسي ادب له انواعو او ډولونو څخه ده . ادبي ټوټه د خپل ادبي جوړښت له مخې له داستان ، ناول او رومان سره جوت توپیر او فرق لري : د ادبي ټوټې یا او ځېرک خصوصیت دا دی چې په دغه ادبي فورم کې هغه پیښې ، واقعي او حادثې انځور او ترسیم کیږي کومې چې واقعاً هم منځ ته راغلې وي . د ادبي ټوټې اتلان او لوبغاړي هم واقعي لوبغاړي او اتلان وي . په داسې حال کې چې په ناول کې هنرمند او لیکوال د ټولنیز او اجتماعي ژوند له مطالعې څخه الهام اخلي او بیا د شاعرانه تخیل په مرسته د هغه څخه تابلو جوړوي . دا امکان هم شته دی چې په ناول ، داستان او رومان کې لیکوال داسې تخیلي اتل او قهرمان انځور او ترسیم کړي چې هغه په واقعي ژوند کې اساساً وجود ونه لري ، خو د قهرمان او اتل ټول ممیزات او خصوصیتونه په خامخا د لیکوال او هنرمند په چاپیریال او محیط کې موجود وي . د ادبي ټوټې په لیکلو کې هنرمند باید شاعرانه تخیل ته دومره قوت ورنه کړي چې خبره ناول ته ورسیږي ځکه چې په ناول کې دا حتمي نه ده چې پېښې د حتماً واقعي وي . خو په ادبي ټوټه کې [illegible] دی او هر لیکوال چې ادبي ټوټه هست او ایجاد کوي . واقعي پېښه لري او په دې باب کې جهاني ادبیاتو کې لیکوالو ډېر څه په واقعي توګه لیکلي دي ...

ډرامه یوناني کلمه ده ، ډرامه هم د هنري ادب له ډولونو او انواعو څخه ده او یوه ډېره مهمه برخه یې ډرامه ځکه ګڼل کیږي چې په ښېړه او وسیعه معنا سره هغه ادبي اثر چې د دیالوګ په شکل لیکل شوی وي او خبرې د اتلانو او لوبغاړو تر منځ روانې وي ، داسې ادبي اثر ته ډرامه ویل کیږي . خو په رومان ، داستان ، ناول او ادبي ټوټه کې لیکوال پخپله په ترسیم شوي تابلو باندې خبرې کوي ، تر څو لوستونکي وکړای شي په هغه تابلو باندې پوه شي ولې دډرامې لیکونکي د خبرو سلسله او لړۍ لوبغاړو ته پرېږدي او په صحنه باندې هم پخپله لوبغاړي را جوت او را ښکاره کیږي . ډراماتیک آثار عموماً د تیاتر او صحنې لپاره لیکل کیږي . ډراماتیک آثار مختلف انواع او ډولونه لري چې مشهور یې تراژیدي او کومیدي ده چې راتلونکې کې به وربانډې لنډه رڼا واچول شي ...

اعلانات

کسارت اخذ ادویه صداقت درملتون ولایت بغلان ملکیت عبدالغنی فرزند نوروز مفقود گردیده از اعتبار ساقط است .

***

لیاقت علی وسید عبدالرحمن معدن تلك عبدالخلیل اچین ولایت ننگرهار را فی تن مبلغ ۵ . ۲ دالر امریکایی برای مدت یکسال قرارداد مینماید .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بریاست تصدی استخراج معادن بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۰-۴-۱۴۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتواند تضمین اخذ میگردد .

***

مهر مدرسه عالی عاشقان وعارفان مفقود گردیده یابنده به مدرسه عاشقان وعارفان سپرده در غیر آن از اعتبار ساقط است .

***

وزارت اطلاعات وکلتور تعداد پنجصدوهشتاد وشش قلم اموال واجناس داغمه جات مازاد ضرورت خویشرا الیلام مینماید .

اشخاص وموسساتیکه خواهش خریداری آنرا داشته باشند درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات وزارت اطلاعات وکلتور بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۰-۴-۱۴۲۲ . تا ده روز مراجعه نمایند لست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

بهرام خان فرزند شاه زمان وکالتاً یك باب دوکان ملکیت سخیداد فرزند مرزا نورجان و غیره ورثه واقع ناحیه اول را بالای گل جان فرزند حاجی صاحب جان بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه در مورد دوکان مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند درغیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

سلطان محمد فرزند محمد غیاث وکالتاً یك دربند حویلی ملکیت نورمحمد فرزند صالح محمد وغیره ورثه واقع ناحیه سوم را بالای عبدالستار فرزند عبدالسلام بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه درمورد حویلی مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تا ده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

***

نساجی افغان دکاکین واقع حصه اول جاده میوند مقابل سینمای پامیر را با اشخاص ذیل برای مدت دو سال قرارداد مینماید .

دکان نمبر ۱ – محمد عارف فرزند عبدالوهاب ماهانه مبلغ ششصد هزار افغانی .

دکان نمبر ۲ – عبدالمنان فرزند عبدالسلام ماهانه مبلغ سه صد هزار افغانی .

دکان نمبر ۳ – عبدالهادی فرزند عبدالحبیب ماهانه مبلغ سه صد هزار افغانی .

دکان نمبر ٤ – رحمت الله فرزند عصمت الله ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی .

دکان نمبر ٥ – عبدالقاسم فرزند کبیراحمد ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی .

دکان نمبر ٦ – نصیر احمد فرزند عبدالحبیب ماهانه مبلغ پنجصد هزار افغانی .

دکان نمبر ۷ – غلام سخی فرزند غلام علی ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی .

دکان نمبر ۸ – اغاگل فرزند ملاگل ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی دکان نمبر ۹ شیرجان فرزند ملاگل ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی .

دکان نمبر ۱۰ – سید منظر شاه فرزند سید اصغرشاه ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی .

دکان نمبر ۱۱ – محمد رفیق فرزند محمداکرم ماهانه مبلغ هفتصد هزار افغانی .

دکان نمبر ۱۲ – محمد اکرم فرزند محمد انور ماهانه مبلغ هشتصد هزار افغانی .

دکان نمبر ۱۳ – عبدالستار فرزند علی احمد ماهانه مبلغ نه صدو سی هزار افغانی .

دکان نمبر ۱٤ عبدالرقیب فرزند درمحمد ماهانه مبلغ نه صد هزار افغانی .

مزایده کننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت خدمات نساجی افغان واقع سرك پنج تایمنی وات مقابل مسجد حاجی محمد داد بسپارند وخود شان از تاریخ ۲۰-٤-۱٤۲۲ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تأمینات اخذ میگردد

راغلی لیک

ښاغلو ! لکه چي معلومه ده په دېني چارو کي د پخوانيو نظامونو د سستي او تنبلي له امله په کابل ښار کي دجوماتونو ډېر کمي دي او که ېيا هم وي نو د اودس ځايونه له سختي نيمگړتيا سره مخامخ دي . په دي جمله کي يو هم د امير عبدالرحمن خان پارک له مقبري سره جوخت يو جومات دي چي په ډېر ښه ځاي کي موقعيت لري ، نور جوماتونه تري لري او چاپېره يې گڼه گونه وي . خو داچي د اوداسه انتظام پکي نشته نو ښار او له نظره غورځېدلي ښکاري داچي نوموړي جومات د اودس ځايونو لپاره ډېره مناسبه پراخي لري نو که د کابل د جوماتونو او اوقافو اداره يا بل کوم نېک چاري هلته د اوبو څه بندوبست وکړي ، اودس ځايونه جوړ کړي او د سرک خواته يې لار سېخه کړي ، لمونځ کوونکو ته به ډېره آساني او لوي خداي به ښي بدلي ورکړي . نورمو په لوي خداي سپارم .

والسلام علیکم

حاجي زېرگل دوکاندار

حاجي صاحب خداي پاک دي تاته هم ښي بدلي درکړي . دادي ستا رالېږي پانه مو په شريعت ورځپانه کي خپره کړه . الله عزوجل دي په دي ښېگڼه کي هرچاته توفيق ورکړي . اداره

دبندیزونواو ...

هیوادونو کي په ډېرو بدو او سختو شرايطو کي ژوند کوي او د دغو هيوادونو د ځينو اشخاصو او پوليسو لخوا ځورول کيږي او ان وهل کيږي او ټکول کيږي او له وژني سره مخامخ کيږي چي دا کار دمهاجرينو په چارو کي د ملگرو ملتو د سازمان د عالي کمشنري د کنوانسيون پرخلاف دی . لکه څنگه چي تېره شپه د ډله ييزو اطلاعاتو د وسايلو له لاري يو خبر خپور شو چي د ايران د اسلامی جمهوريّت د اصفهان په ښار کي مهاجر افغانان وهل شوي او ټکول شويدي او يوزيات شمير کسان ټپيان او وژل شويدي .

د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنيو چارو وزارت له ټاسو څخه د زره له کومي غوښتنه کوي چي له خپل نفوذ او قدرت څخه کار واخلي او دغو هيوادونو مسئولو مقاماتو ته چي افغانان پکي ځورول کيږي او کړول کيږي توصيه وکړي چي د دغه شان ناوړو پيښو مخه ونيسي او په جبري ډول د دغوی په شړلو اقدام ونه کړي . او دمهاجرينو په وړاندي خپل اخلاقي مسئوليت تر سره کړي . او دغه راز دمهاجرينو په چارو کي د ملگرو ملتو د سازمان دعالي کمشنري له محترمي اداري څخه غوښتنه کوو چي له افغاني مهاجرينو سره له خپلو مرستو او همکاريو څخه ډډه ونه کړي او په دي اړوند خپل انساني او قانوني مسئوليت تر سره کړي . له وخت څخه په استفادي سره يوځل بيا ستاسو د روغتيا او سلامتيا هيله کوم .

دربرابر حمله بر ...

کارهستیم اما تهران تایمز این عمل را یك عمل ناجوان مردانه وغیر اخلاقی خواند مگر دفتر کمشنری سازمان ملل درامور مهاجرین تاحال هیچ عکس العملی از خود نشان نداده است .

وحدت وهمبستگي ..

عازم ولسوالی های حصه اول و دوم بهسود ولایت میدان وردگ گردیده بودند نتایج سفر شانرا به آن ولسوالی ها اطمینان بخش خوانده روحیه همکار ی و پشتیبانی مردم هزاره جات را در امر خدمتگذاری و تحقق اهداف امارت اسلامی بیان داشتند .

انان در این سفر برنامه های امارت اسلامی را به مردم ان ولسوالی ها توضیح نموده و از اماده گی ،فداکاري، ایثار و از خود گذری مردم در راه تحکیم نظام اسلامی درکشور اطمینان دادند .

بالمقابل محترم وزیر اطلاعات وکلتور وحدت وهمبستگی همه اقوام وملیت های ساکن در کشور را ضامن تحکیم صلح و امنیت در کشور خوانده از روحیه همکاری برادران اهل تشیع با امارت اسلامی در هر کجای کشور که هستند اظهار قدردانی نمود .

طبق یك خبر دیگر

محترم وزیرداخله باسران اهل تشیع ملاقات نمود .

محترم ملا عبدالرزاق آخند وزیر امور داخله قبل از ظهر دیروزباعده ئی از نماینده گان مردم اهل تشیع ملاقات نمود دراین ملاقات ابتدا محترم سید محمد نواب حیدری ومحترم مهدوی با لترتیب دررابطه به چگونگی وارزشمندی جلسا تی که قبلاً درولسوالی های حصه اول ودوم بهسود ولایت میدان وردگ با مردم آن ولسوالی ها داشتند روشنی انداخته از پشتیبانی وحمایت کامل مردم آنولسوالی ها در راه حراست از دست آورد های امارت اسلامی اطمینان دادند .

دمسعود په لیکوکي .

خبریال چی څه موده وړاندی سیمی ته راغلی او دمسعود مرکز ونه یی کتلیٌ و له خولی لیکلی چی هغه په خپلو سترگو دمسعود په جنگیالیوکی بهرنی عسکرلیدلی چی د زیاترو مهموسلو په استعمال گمارل شویٌ و - دمنځنی آسیا په چاروکی دزیاترو کارپوهاند

تــوجــه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید .

پارک تفریحي و ورزشي ...

مسؤل پروژه به خبرنگار ما گفت:

کارپارك تفریحی کودکان ومیدان ورزشی والیبال ، باسکتبال ومتوازی برای نوجوانان به مساحت ۳۳۸۲ متر مربع زمین درساحه مکرویان اول نود فیصد تکمیل گردیده است.

درپارك بازی اطفال ۱۲ وسیله تفریحی نصب گردیده که درمجموع پارك ، ساحه سبز ، پمپ آب کانتین وپارك وسایط برای والدین اطفال در نظر گرفته شده است .

این پارك پس از امضا پروتوکول میان ریاست عمومی کارو امور اجتماعی وموسسه خدمات انکشافی وبشری برای افغانستان .D.H.S.A احداث گردیده که مشابه این پارك دو پارك تفریحی دیگر درخیرخانه مینه روی دست است.

پارك های متذکره به کمك مالی مردم جاپان برای اطفال افغانستان احداث میگردد . درانی



عکس : نمایي از پارك تفریحي مکرویان اول عکاسی یوسف

له نظره یقیناً دابه دغه روسی پوځی ټولگیو اړوند افراد وی چی دآمو په غاړه دتاجک - افغان پولی په څارنه او ساتنه لگیادی . دیادونی وړ ده چی مسعود په دی ورستیوکی دنوبو روسی چورلکو ، ټانکونو او ټانک ویشتونکو توغندیو ترلاسه کولو اعتراف کړی نو کیدای شی دهمدغونوبو وسلو داستعمال لپاره یو شمیر روسی عسکرهم دجگړی لیکوته راغلی وی او داځکه چی دجگړی اوسنی کرښی دآمو څنډو ته ډیر ی نږدی پرتی دی .

په چراټ ،شمشتو ...

د باختر اطلاعاتی اژانس خبر راکړ د شهیدانو او مهاجرینو د چارو وزارت استازی محترم مولوی عبدالغفار قریشی پرون په اسلام آباد کي د رابطه عالم اسلامی موسسی له رئیس محترم رحمت الله نذیر خان ، د افغانی مهاجرینو ستونزی او مشکلات بیان کړل او وی ویل : په پاکستان او په تیره بیا دجلوزو ، د شمشتو په نوی کمپ او د پیښور د ناصرباغ په کمپ کي میشت افغانی مهاجرین په دردوونکی حالت کي ژوند کوی او هر راز بشری مرستي ته اړتیا لری .

دغه راز دهیواد په دننه کي میشت مهاجرین او بی ځایه شوی کسان هم د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا د بندیزونو او د وچکالی له امله په ناوړه حالت کي شپي سبا کوی .

په دي کښته کي دواړو خواوو د هیواد په دننه او په تیره بیا د کندز ، بغلان ، هرات او تخار د ولایتونو او دجلال اباد په ښار کي د میشتو مهاجرینو د استوگني ځای دنشتوالی په باب هم خبري وکړی او ددغه وزارت استازی په دی برخه کي دبشری مرستی غوښتنه وکړه .

په مقابل کي د رابطه عالم اسلامي موسسي رئیس دهیواد په دننه کي افغانی مهاجرینو ته د

کورونو دجوړولو او په هغوی باندی د بشری مرستی دموادو د ویشلو په باب د همکاری ژمنه وکړه .

یک مقدار سلاح ...

سمنگان به دست آمده بود شامل یك دستگاه سکر ۲۰ ، یك میل هاوان وسط ، یك میل زیکویك ، یك میل کلاشینکوف ویکمقدار مهمات سلاح های ثقیله و خفیفه میباشد همچنان موظفین استخبارات ولایت سمنگان ٤ تن از قمار بازان را حین اجرای عمل ناروای قمار بالفعل دستگیر وبه پنجه قانون سپردند .

۲۷٦ قلم ادویه ...

افزود :ریاست قوانین صحی وبررسی طی سال جاری از طریق تکس درملتونها مبلغ ٤۲۸ ملیون افغانی عاید امارت اسلامی نموده ، پرسونل این ریاست توانسته تنها در ربع اول سال ۲۷٦ قلم ادویه تاریخ گذشته و ۳٥ قلم ادویه کمکی موسسات خیریه خارجی راáز درملتونهاجمع آوری نموده همچنان ۳۸٥ باب درملتون بررسی گردیده که برای ۳۷ باب آن به اساس تخلف مجازات صادر گردیده است .

محترم مولوی احمد جان احمدی افزود :تا حال ۹ کلینیك تشخیصیه وهفت باب لابراتور مجهز بعدازطی مراحل قانونی درمرکز وولایات کشور افتتاح گردیده است

عارف عبدالله

۸۰۰ یتیم در ...

قابل ملاحظه ای را انجام میدهد این موسسه یك مکتب حرفوی یا پرورشگاه را برای اطفال یتیم ایجاد نموده است که تعمیرآن تحت ترمیم قرار دارد به تعداد ۸۰۰ یتیم را دررشته های نجاری، سیم توی ، حلبی سازی ، گلکاری تحت تربیه قرار داده وماهانه مبلغ چهارصد وپنجاه کلدار معاش،نان چاشت ولباس به شاگردان کمك میکند شاگردان دراین موسسه از ساعت ۸ صبح الی ۱۲ ظهر به دروس

حرفوی بعداز آن تاساعت ۳ بعداز ظهر دروس دینی تدریس میشوند این موسسه از طرف تنظیم های بین المللی اسلامی ودیگر کشور های اسلامی کمك میشود .قیامي

چرا خربوزه ...

حقیقت متوصل نشده است : چنانچه همین حالا فی سیر خربوزه در بالای کراچی های میوه درین شهر بین ٥٥ تا ٦۰۰۰۰ افغانی بفروش میرسد .

اینکه چرا تا حال نرخ خربوزه درمارکیت ثابت مانده و پائین نمی آید محترم ملك محمد یکتن از کیه داران مارکیت خربوزه و تربوز در زمینه میگوید : فعلاً روزانه بین پنج تا هشت موتر خربوزه درین مارکیت تخلیه میگردد که هر موتر گنجایش ۲۰۰۰ دانه خربوزه را در خود دارد ، موصوف علاوه نمود : امروز فی سیر خربوزه طور عمده درین مارکیت بین ۲٥ تا ٤٥ هزار افغانی بفروش رسیده است : البته این در حالیست که فی دانه خربوزه در بالای فالیز یا به اصطلاح پلك در ولایت کندز برای آنانیکه همین خربوزه ها را خریداری و انتقال نموده اند ۲٥ تا ۳۰ هزار افغانی تمام شده است ؛ بنا؛ گفته میتوانم که یگانه دلیل قیمت بودن نرخ خربوزه درشهر کابل اولاً کم انتقال شدن آن از کندز به کابل و ثانیاً قیمت بودن نرخ خربوزه در خود مزارع کندز و مزار می باشد .

محترم ملك محمد افزود : این امکان میرود که بعد از این روزانه بین ۳۰ تا ٤۰ موتر خربوزه از شمال به کابل انتقال گردد و دیری نخواهد بود که به یکبارگی نرخ خربوزه درین مارکیت کاهش قابل ملاحظه یافته ومثل ارزانی و فراوانی تربوز درکابل خربوزه نیز برکت نماید . مهربان

وحشت روسها در ...

مسلح هم دستگیر نه گردیده ، اما اکثر سربازان روس میگویند که این تلاشی برای قوای روسی یك بی

از چهارگوشهٔ دنیا

مدرن ترین قاتل دستگیر گردید

یك قاتل حرفوی که خدمات خودرا از طریق شبکه کمپیوتری انترنت اعلان کرده بود توسط پولیس روسیه توقیف شد .

این قاتل دراعلان خود نوشته بودکه درمورد شخص مورد نظر ، بدون رضائیت اش کمك میکند پولیس روسیه خود را درلباس یك مشتری قرار داده ودرشهری که درجنوب شرق مسکو قراردارد به این قاتل حرفوی مراجعه کرد وقتی از اماده گی شخص برای کشتن یك فرد دربدل چندین هزار دالر مطمئن شد او را فوراً دستگیرکرد . رئیس پولیس میگوید که این اولین باراست که این قاتل حرفوی از طریق انترنت اعلان میدهد ودستگیر میشود

پنجصدجسد در انگلستان کشف گردید

دانشمندان انگلیسی پنجصد جسد راکه مربوط به قرن نهم قبل از میلاد میشود از داخل یك قبرستان بیرون آورده اند این دانشمندان پس از تحقیقات وآزمایشات به این نتیجه رسیده اندکه افراد بلند قد از افراد کوتاه تر عمر بیشتر میکنند .

به گفته داکتران افراد کوتاه قد بیشتر از افراد قد بلند به امراض قلبی وریوی مبتلا میشوند واین صدمه از وضعیت نامتناسب آنها دردوران طفولیت نسج میگیرد .

قدیمترین مغاره کشف شد

باستان شناسان مغاره را درجنوب غرب فرانسه کشف کرده اند که درآن آثار هنری وجود دارد که ممکن است سی هزار سال عمر داشته باشد .

یك گروه باستان شناسان فرانسوی میگویندکه این مغاره دوازده مترارتفاع دارد ودیوارهای آن بسیار زیاد ظریف نقاشی شده است که این نقاشی ها شامل تصاویر مرغ ودیگرحیوانات مانند اسپ، کرگدن وگاو میش است باستان شناسان محل این مغاره را درنزدیك دهکده کوچك کاسك درماه سپتمبر کشف کردنداما خبر معلومات تاریخی آن هفته گذشته پخش گردید .درانی

دریک زدوخوریکصدوچهار مامور پولیس شدیداً زخمی گردید

بی بی سی - شریعت:

درشهرپرت فورد انگلستان باردیگر بین جوانان وپولیس آنکشور زدوخورد هایی صورت گرفت . جوانان دراین برخورد با سنگ به طرف پولیس حمله ورشدند که دراثرآن ده جوانان از طرف پولیس دستیگر و باز داشت گردیدند ، این سومین شب متواتر برخورد ها بود که دراثر آن یکصدوچهار مامور پولیس زخمی شده است .

عزتی بود که حتی چندین افسردر برابر این عمل به رسم احتجاج از وظیفه خارج گردیده اند .گفته میشود که دراثراین تلاشی هفت تن بی درك شده اند.طبق یك خبر دیگر آژانس انترفکس روسیه گزارش داد که قوای آنکشور بالای مردم چیچن از ظلم وتعدی کار میگیرند .

اسرائیلي ټانکونو ..

تنه اسرائیلی عسکر او پنځه تنه فلسطینیان زخمیان شویدی . د رپوټونو په اساس دا دمتحده ایالاتو په ملگرتوب کي کیدونکی اوربند کي ترټولو تازه سرغړونه ده .

فلسطینی مبارزینو او اسرئیلی عسکرو د مصر سرحد ته نږدی د مهاجرو د رفاه په کمپ کي يو په بل باندی ډزی وکړی . د اسرائیلو پوځ وایی چي پرون يی د فلسطینیانو يو شمیر کورونه وران کړی دی او وایی چي داکورونه يی ځکه وران کړل چي په اسرائیلو باندی ډزی تري کیدی .

پوځ دغه راز وایی د عسکرو د حفاظت لپاره ددی کورونو ړنگول ضروری و ، فلسطینی منابع وایی چي د اسرائیلو بلدوزرونو د فلسطینیانو پنځه ویشت ودانی وبچاړ کړیدی د اسرائیلو بلدوزرونو پرون هم په بیت المقدس کي دفلسطینیانو څوارلس کورونه وران کړل او ویل يی چي دا کورونه يی له اجازی جوړ شویدی .

عراق اجازه ...

قرار دادی را به امضا رسانید که به اساس آن عراق میتواند پس از این تا تاریخ سوم نوامبر مجدداً نفت خودرا صادر نماید .

محصلین پوهنتون ..

گرفته بود .

درتظاهرات جدید پانزده محصل شدیداً زخمی گردیده است، ناآرامیهای سال قبل درپوهنتون تهران شدیدترین ناآرامیها پس از انقلاب ایران درآن کشور محسوب میشود.

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq